اې زما بندګانو، ما پر خپل ځان ظلم حرام کړی دی او ستاسو تر منځه مې هم حرام ګرځولی نو یو پر بل ظلم مه کوئ

له ابو ذر رضي الله عنه څخه روایت دی: له پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - څخه - په هغه څه کې چې هغه یې له خپل رب څخه روایتوي چې هغه فرمایلي دي: «اې زما بندګانو، ما پر خپل ځان ظلم حرام کړی دی او ستاسو تر منځه مې هم حرام ګرځولی نو یو پر بل ظلم مه کوئ ، اې زما بنده ګانو تاسو ټول ګمراه یاست مګر هغه څوک چې ما ورته هدایت کړی دی، نو زما څخه هدایت وغواړئ زه به تاسو ته هدایت وکړم، اې زما بنده ګانو! تاسو ټول وږي یاست مګر هغه څوک چې ما موړ کړی دی، نو زما څخه روزي وغواړئ زه به تاسو ته روزي درکړم، اې زما بنده ګانو! تاسو ټول برېنډ یاست مګر هغه څوک چې ما پټ کړی دی، نو زما څخه جامې وغواړئ زه به تاسو پټ کړم، اې زما بنده ګانو تاسو شپه او ورځ ګناهونه کوئ او زه ټول ګناهونه بخښم، نو زما څخه بخښنه وغواړئ زه به تاسو ته بخښنه وکړم، اې زما بنده ګانو! تاسو زما ضرر ته نه شئ رارسیدلی چې ماته ضرر راورسوئ، او نه زما ګټې ته رارسیدلی شئ چې ماته ګټه راورسوئ، اې زما بنده ګانو! که چېرته مخکني او وروستني ستاسو، انسانان او پېریان ستاسو ټول د یو تر ټولو تقوا لرونکي انسان په زړه باندې شي، نو زما په پادشاهۍ کې به هېڅ شی زیات نه شي. اې زما بنده ګانو! که چېرته مخکیني او وروستني ستاسو، انسانان او پېریان ستاسو؛ ټول په یو میدان کې ودریږي او زما څخه سوال وکړي او هر یو ته د هغه د غوښتنې مطابق ورکړم؛ نو هېڅ شی به کم نه شي له هغه څه نه چې ما سره دي مګر د ګنډلو د یوې ستنې په اندازه چې په دریاب کې وټومبل شي، اې زما بنده ګانو! یقینا دا ستاسو عملونه دي زه یې تاسو ته حسابوم بیا یې تاسو ته درسپارم، نو چا چې خیر وموند نو د الله ستاینه دې وکړي او چا چې پرته لدې بل څه وموندل نو یوازې خپل ځان دې ملامته کړي».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې الله تعالی فرمایلي دي چې هغه ظلم پر خپل ځان حرام کړی دی او د خپلو مخلوقاتو تر منځه یې هم ظلم حرام کړی دی نو هېڅوک به پر بل ظلم نه کوي. او دا چې ټول مخلوقات له حق لارې څخه بې لارې دي مګر د الله تعالی په هدایت او توفیق سره، او څوک چې د الله تعالی څخه هدایت وغواړي نو هغه ته توفیق ورکوي او هدایت ورته کوي. او دا چې خلک د الله تعالی په نېز غریب دي او هغه ته په خپلو ټولو اړتیاوو کې محتاج دي، او څوک چې له الله څخه وغواړي هغه یې اړتیا پوره کوي او بسنه ورته کوي. دوی د شپې او ورځې ګناهونه کوي، او الله تعالی پرې پرده اچوي او کله چې ترې بنده بخښنه وغواړي نو له ګناهونو څخه یې ورته تېریږي. او دا چې دوی نشي کولی الله تعالی ته زیان ورسوي او یا ورته د څه شي ګټه ورسوي. او دا چې که دوی د یو تر ټولو پاک زړه لرونکي سړي په څېر پاک وو ، نو د الله په پاچاهۍ کې به د دوی تقوی هېڅ زیاتوالی نه و راوستی. او که چېرته دوی د یو بد زړي سړي د زړه په څېر وي، نو د دوی بې لاریتوب به د هغه له ملکیت څخه هېڅ شی نه و کم کړی، ځکه چې دوی کمزوري او الله تعالی ته محتاج دي، په هر حالت، وخت او ځای کې الله تعالی ته اړتیا لري او هغه ذات بډای او پاک دی. او دا چې که د دوی مخکیني او وروستني د انسانانو او پېریانو په شمول په یوه ځای کې ودریږي او له الله تعالی څخه وغواړي او هغه هر یو ته هغه څه ورکړي چې هغه یې غواړي، نو دا به له هغه څه څخه هېڅ شی کم نه کړي چې د الله تعالی سره دي مګر د یوې ستنې په اندازه چې په دریاب کې ډوبه شي او بېرته راووېستل شي، نو دریاب په هغې سره هېڅ نه کمېږي، دا د هغه د بشپړ بډایتوب له امله. او دا چې الله پاک د خپلو بندګانو اعمال ساتي او د هغوی لپاره یې حسابوي بیا یې د قیامت په ورځ پوره ورکوي، نو چا چې د خپلو کړنو بدله ښه وموندله د الله ستاینه دې ادا کړي چې د اطاعت توفیق یې ورکړی، او چا چې د خپلو کړنو بدله لدې پرته بل څه وموندله نو له خپل نفس پرته دې بل څوک نه ملامتوي ځکه چې نفس یې ورته په بدۍ امر کاوه او دی یې تاوان ته

مخ کړی و.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4810

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee